# د جنسیت یا جنډر مساواتو او احترام ته وده ورکول

**د مضرو باورونو مخې د دریدلو او د ښځو پر مقابل کې د نامناسب او د ځوروني ښخه د ډک چال چلند د مخنیوي لپاره ډیر کارونه شته چې تاسې یې کولای شی.**

## چې دا پکې شامل دي:

**د پوهاوي رامنځته کول:** د کورني، فامیلي او جنسي تاوتریخوالي (DFSV) او ددې د علتونو په هکله د معلوماتو نه شتون یا د لږو معلوماتو شتون ډار را مینځته کوي او هغه ښځې چې د تاوتریخوالي او ځوروني ښخه تیریږي د مرستې د غوښتلو ښخه منع کوي. مذهبي او ټولنیز مشران کولای شي چې خاصې زده کړې ترسره کړي ترڅو په DFSV باندې ښه پوه شي او داچې څرنګه یې مخنیوی وکړي. تاسې کولای شی چې د معلوماتي پاڼې ښخه معلومات د ټولنې په خبرپاڼو کې نشر کړی او یا یې هم د معلوماتي پاڼې په شکل وویشی؛ داسې پوسترونه وځروی چې د ټولنې پوهه پرې زیاته کړی؛ او یاهم پریکړه لیک جوړ کړی ترڅو ستاسې ټولنه په دې پوه شي چې ستاسې موقف د ښځو سره په خپلویو یا رابطو کې د نارینه و د خوندي رویې د ودې په هکله ښکاره کړې او همدارنګه د ښځو حقوق چې د تاوتریخوالي او ځوروني ښخه پرته ژوند وکړي ښکاره کړي.

**د بحثونو کول:** د DFSV په هکله او همدارنګه د جنسیت یا جنډر د مساواتو د اهمیت په هکله چې د ښځو په مقابل کې د نرانو د تاوتریخوالي مخنیوی کوي د خبرو کولو لپاره فرصتونه برابروي. دا کیدای شي چې د خطبې په ډول ترسره شي، او یا هم په کوچنیو غیر رسمي ډلو کې د بحثونو په ډول او یا هم د متخصصینو په رابللو سره ترڅو ستاسې ټولنې ته خبرې وکړي. په خپله ټولنه کې ټول پکې شامل کړئ، نارینه، ښځینه او نوي ځوانان.

دا په نظر کې ونیسئ چې ستاسې په مذهبي رسومو کې د ښځو او نرانو تر مینځ څه ډول احترام او مساوات شته دي، او دا چې د ښځې ونډه د نر څخه څه توپیر لري او داچې تاسې نور څه کولای شی چې ښځې په پریکړه کولو او مشرتابه کې شاملې کړی.

**ونډه اخیستل:** د ټولنې په هغه نوښتونو کې ونډه اخیستل چې د نرانو او ښځو په مینځ کې احترام ته وده ورکوي، لکه د ښځو په مقابل کې د تاوتریخوالي د له مینځه وړلو نړیواله ورځ چې د نومبر په ۲۵ مه لمانځل کیږي او همدارنګه ۱۶ ورځنی فعالیت چې د جنسیت په اساس د تاوتریخوالي کمپاین دی چې د نومبر ۲۵ مې څخه د ډیسیمبر تر ۱۰ مې پورې دوام لري. او همدارنګه تاسې کولای شی چې د ښځو نړیواله ورځ چې د مارچ په ۸ لمانځل کیږي ولمانځی چې ستاسې ټولنې او دین ته د ښځو خدمت او ونډه و پیژندل شي.

**اقدام وکړئ:** د جنسیت یا جنډر مساواتو ته په خپله ټولنه کې د بدلونونو په راوستلو سره وده ورکړئ تر څو ښځو ته مساوات او احترام وهڅول شي. چې د جنسي مساواتو/د ښځو په مقابل کې د تاوتریخوالي د مخنیوی پلان یا د عمل ډله؛ د پیغلو نجونو هڅول ترڅو په مشرتابه کې ونډه واخلي؛ او د نویو مشرانو یا رهبرانو لپاره د زده کړو برابرول.

**د مشارکتونو جوړول او دبدلون لپاره غږ پورته کول:** د نورو ټولنیزو ډلو، شبکو او مذهبي ټولنو سره ملګرتیا او کار کول، کیدای شي چې تاسې سره په زده کړه او د کار په تقویت کې مرسته وکړي تر څو د DFSV مخنیوی وکړی. دا کولای شي چې داسې فرصتونه برابر کړي چې ستاسې د مذهب او ټولنې غړي د خوندیتوب د خدمتونو سره وصل کړي، او ویې هڅوي ترڅو مرسته او ملاتړ وغواړي.

## د DFSV په هکله معلوماتي منابع

ګڼ شمېر معلوماتي منابع شته دي ترڅو تاسې سره مرسته وکړي چې د تاوتريخوالي او ځورونکي چال چلند پيژندنه وکړی او مخې ته يې ودريږی. چې دا پکې شامل دي:

**1800RESPECT – د جنسي تيري ملی خذمتونه او د کورني او فاميلي تاوتيرخوالي د مشورې خذمتونه**

د DFSV په هکله په مختلفو ژبو کې معلومات

Information about DFSV in different languages

**Anglican Diocese Melbourne**

د ښځو په مقابل کې د تاوتريخوالي د مخنيوي پروګرام

Preventing Violence Against Women Program

**د AMES د ښځو په مقابل کې د تاوتريخوالی د مخنيوي د رهبری يا مشرتابه پروژه**

د روزمره جنسيت مخنيونه – ۱ او ۲ برخه

Challenging Everyday Sexism – Part 1 and 2

**د کورني تاوتريخوالي د مخنيونې پروژه**

مساواتو او احترام ته وده ورکول: د ډول ډول مذهبونو تر مينځ همکاري چې د کورني تاوتريخوالي مخنيوی کوي

Promoting Equality and Respect: An interfaith collaboration on preventing family violence

**د سکاټلنډ کليسا – د احترام يا عزت تګلاره**

د ښځو په مقابل کې تاوتريخوالي ته د پای د ټکي د ايښودو لپاره کار کوي

هغه معلومات چې د ښځو په مقابل کې د تاوتريخوالي د ستونزې د حل لپاره دي

Working to end violence against women Resources for tackling violence against women

**مذهبي ټولنې چې د ښځو او کورنيو په مقابل کې تاوتريخوالي ته د حل لاره پيدا کوي – هغه څه چې کار کوي:**

مهمې لارښوونې په مذهبي ټولنه يا شرايطو کې د مؤثر مخنيوي لپاره

Key Tips for Effective Prevention in Faith Settings

د ملبورن پوهنتون او ښځو د روغتيا لپاره د ډول ډول کلتورنو د خلکو لپاره مرکز

**InTouch د ډول ډول کلتورنو د خلکو لپاره مرکز چې د کورني تاوتريخوالي په مقابل کې دی**

د مذهبي او ټولنيزو مشرانو ته ورتيا ورکول تر څو د ښځو په مقابل کې د تاوتريخوالي مخنيوی وکړي

Empowering Faith and Community Leaders to Prevent Violence Against Women

**Our Watch (زمونږ تر څار لاندې)**

راځئ چې قيصه بدله کړو: په استراليا کې د ښځو په مقابل کې تاوتريخوالی

Let's change the story: Violence against women inAustralia

**Our Watch (زمونږ تر څار لاندې)**

د مخنيوي د مأمور لارښود

Prevention Practitioner Guide

(د داسې مثالونو سره چې مذهبې شرايط ولري)

**Our Watch (زمونږ ترڅار لاندې)**

ولې د ښځو په مقابل کې تاوتريخوالی کيږی؟

What Drives Violence Against Women?

**په مذهبي ټولنو کې مساوي او احترامانه روابط**

لارښود او معلومات

Manual and toolkit

**SASA! Faith**

په مذهبي ټولنو کې د ښځو او HIV په مقابل کې د تاوتريخوالي لپاره لارښود

A Guide for Faith Communities to Prevent Violence Against Women and HIV

Trocaire and Raising Voices

**The Man Box : مطالعه په استراليا کې يو ځوان سړی**

The Men's Project – Jesuit Social Services

**White Ribbon Australia**

resources

تاسې کولای شی چې د DFSV په مخنيوي او د حل د لارې په پيدا کولو کې مهم رول ولوبوی او ښځې او ماشومان خوندي وساتی.

نور معلومات په 1800RESPECT (1800 737 732) او يا www.1800RESPECT.org.au کې شته

**په عاجلو حالاتو کې او يا هم که کوم څوک په خطر کط وي 000 ته فوراً زنګ ووهئ.**

دا د DFSV په هکله د ۴ معلوماتي پاڼو څخه يوه ده. د جنډر يا جنسيت د مساواتو او احترام د ودې په اړه نور معلومات په ۳ مه معلوماتي پاڼه کې شته. د DFSV د پيژندې او د هغې په اړه د اقدام کولو لپاره ۱ او ۲ مه معلوماتي پاڼې وګورئ.

Government of South Australia

MCCSA

Multicultural Communities Council of South Australia

Women's Safety Services SA

BREAK THE CYCLE OF DOMESTIC ABUSE